وهمچنان شمارا امت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بمبارد بي رحمانهٔ طيارات رژيم ملحد درولايات بدخشان ،تخاروکندز ادامه دارد .

بدخشان ۳۰رهر ۱۳۷۰ :
خبرگزاري افغان نيوزايجنسي (انا) به نقل ازيك منبع جهادي درولايات شمال كشورگزارش ميدهدكه : رژيم ملحدكابل بخاطر انتقام شكست هاي خود، ولايات بدخشان، تخار وكندز را ازتاريخ ۲۵ اسدتاكنون تحت حملات شديدهوائي قرارداده است .
خبرعلاوه ميكند : طيارات رژيم ازارتفاع خيلي بلند باپرتاب بم هاي هزار كيلوئي وبم هاي خوشه ئي حداقل به تعداد يكصدتن اهالي بيدفاع را شهيد و بيش ازسيصدتن ديگررا شديدا مجروح نموده است .
خبرمي افزايد : به اثر اين بمباردمانهاي بي رحمانه حاصلات زراعتي ، باغ ها، منازل رهايشي، اپارتمانهاي تجارتي وساير موسسات عام المنفعه شديدا خساره مند گرديده است .
يك پيلوت طياره ميگ ۲۷ كه طياره آن بتاريخ ۲۶ اسد درولسوالي جرم ولايت بدخشان توسط مجاهدين سقوط داده شده بود وخود آن كه توسط پراشوت خودرا بزيرپرتاب نموده وتوسط مجاهدين دستگير گرديده مجاهدين گفت : وي باانجام سيصد پروازجنگي ازقلد ۳۵۵ قواي هوائي بگرام اكثرمناطق ولسوالي جرم وساير نقاط دربدخشان وتخاررا بمبارد كرده است .
موصوف خودرا دگرمن عبدالمتين فرزند عبدالحميد باشندهٔ ولسوالي جرم ولايت بدخشان معرفي كرده است .

فرمان الهي

وچون گفتيد : اي موسي هرگزصبرنخواهيم كرد برنكنوع طعام ، پس بخواه براي ما ازرب خود كه بيرون آورد براي ما ازآن چيزيكه مي روياند زمين ازسبزيجات آن وتره وبادرنگ آن وگندم آن وعدس آن وپيازآن .
گفت موسي : ايا به عوض ميگيريد چيزي را كه ادناست به چيزيكه بهتر است .
سوره البقره بخشي ازآيه (٦١)

شماره مسلسل (۳٦٥) سال چهاردهم ،شماره (٦١)پنجشنبه (۳۱) اسد ۱۳۷۰ هـ .ش- (۱۲)صفرالمظفر ۱٤۱۲ هـ.ق- (۲۲)آگست ۱۹۹۱م

بوريس يلتسن خواستار استعفاي فوري ومحاكمه اعضاي كميته اضطراري حاكم شد

۲۹رهو ۱۳۷۰ :
امروزدرمسكو تظاهرات دراطراف پارلمان جمهوري روسيه به صورت گستردهٔ ادامه يافت بوريس يلتسين رئيس جمهوري روسيه كه از روز گذشته درداخل پارلمان روسيه به سرمي برد امروز به حملات خودبه گروه رهبري جديد ادامه داد وخواستار استعفاي فوري ومحاكمه آنها شد. پارلمان روسيه ازسوي هواداران يلتسين محاصره شده است ويكصدوپنجاه هزار تظاهركننده درمقابل ساختمان پارلمان روسيه به تظاهرات پرداخته وفرياد ميزدند " يلتسين گرباچوف " دربالكن پارلمان دركنارسازمان دهندگان تظاهرات " ادواردشواردنادزي " وزير امورخارجه اسبق شوروي نيز ديده مي شد درميان تظاهركنندگان هم چنين خانم " ايلنابونر" بيوه فزيك دان سرشناس وبرنده جايزه نوبل شوروي " هانري سخاروف " كه سالها درمخالفت بانظم سابق اين كشور درزندان به سربرده بود نيز ديده مي شد .
سخنرانان امروز درمقابل پارلمان روسيه ازمردم خواستند براي دفاع ازپارلمان شب و روز درمحل بمانند . بوريس يلتسن درسخنراني خود ازمردم خواست تابه ارتش اعتماد كنند وفرياد زد كه ديموكراسي پيروزخواهد شد .
درهمين حال بابالاگرفتن جنگ لفظي بارهبران روسيه وحكام جديد اوضاع درشهرمسكو بيش ازهرزمان غيرقابل پيشبيني شده است كميته حالت فوق العاده كه به عنوان شوري رهبري جديد اداره اموركشور را بدست گرفته است ديشب درواكنشي نسبت به مخالفت هاي رهبران روسيه دربيانيه شديداللحني اعلام كردكه قاطعانه تصميمات خودرا به مورد اجرا خواهند گذاشت اين كميته دربيانيه خود دعوت رهبران روسيه ازمردم اين جمهوري براي اجراي اعتصابات عمومي ومخالفت بااين كميته راخصمانه ومغايربامقررات حالت فوق العاده توصيف وتهديد كرد درصورت ادامه مخالفتها ازخود واكنش نشان خواهد داد .

نشانه هاي شكست كودتاچيان در شوروي ظاهر شده است

تمامي هئيت عضو كميته حالت اضطراري مسكو را ترك گفته اند .
بوش رئيس جمهور امريكا ميگويد با گرباچوف تماس تيليفوني برقرارنموده است.
آخرين گزارش هاي رسيده ازمسكو حاكي است كه كودتاي محافظه كاران كمونيست باشكست مواجه شده است.
گفته ميشود تمامي هشت عضو كميته حالت اضطراري مسكو را ترك گفته بااستفاده ازطياره به جمهوري قرغزستان

حل د٦،

دروالسوالي شيرين تگاب،قوماندان كندك شراب بيك به اسارت مجاهدين درآمد

فارياب ۳۰رهر ۱۳۷۰ :
خبرگذاري انا به نقل قول ازمنابع جهادي درولايت فارياب خبرميدهد كه : مجاهدين بتاريخ ۲٦ اسد قرارگاه هاي نظامي رژيم كابل مستقر درجمعه بازارولسوالي شيرين تگاب ولايت فارياب را بااستفاده ازسلاح ثقيل هدف قراردادند كه درنتيجه قوماندان كندك شراب بيك بنام غلام علي را دستگير نمودند.
خبرعلاوه ميكند : مجاهدين طي اين عمليات ۱٤ ميل كلاشينكوف ۲ ميل هاوان ، ۹ ميل ماشيندار پيكا، دوعراده لاري نظامي ومقدارزيادي مهمات رابه غنيمت گرفتند .
خبرمي افزايد: طي درگيري هاي جمعه بازار ۲۷ نفرازمليشه هاي شراب بيك وعساكر رژيم هلاك ويازخمي شده اند .
ازمجاهدين ۲ تن به شهادت رسيده و۸ تن زخمي گرديده است .
طبق خبر : بتاريخ ۲۸ اسد قواي رژيم بشمول مليشه هاي دوستم بااستفاده ازطيارات ميدان هوائي دهدادي مزارشريف ولسوالي شيرين تگاب را بمباردمان نموده كه سلسله اين بمباردمانها تاحال ادامه دارد .

په روسيه كي دقدرت بدلون دافغانستان دجگړي دسوله ايزحل امكانات كموي

اسلام آباد - دزمري ۲۹ نيته :
دپاكستان رسمي مقامات وايي چي په شوروي كي دقدرت بدلون دافغانستان دوپارلس كلني جگړي له پاره دسوله ايزحل امكانات كم كړي دي دغه مقامات وائي چي په مسكو كي قدرت ته بيادمحافظه كارانورسيدل شايد ددي سبب شي چي دافغاني مجاهدينو تندروي دلي دسوله ايزحل په مقابل كي لاسخت اومضبوط كړي خويه اسلام آباد كي اكثره مامورين اولويديز ديپلوماتان وايي چي دكابل دررژيم مشرنجيب ته به ددي بدلون څخه گته ورسيږي اودمسكوتندروان به دهغه ملاترنورهم زيات كړي .

اتفاق راي ميان مقامات پاكستان وروسها راجع به بعضي جوانب حل قضيه افغانستان

ماسكو :
طبق گزارشي كه درروزنامه هاي پاكستان به نشررسيده است ، مذاكرات مرحله وار ومقطعي ميان مقامات كشورهاي پاكستان وروسيه براي يافتن راه حل قضيه افغانستان آغازگرديده است .
گفت وشنود اخيرهيئت روسي با مقامات پاكستان مهره ئي ازين تلاش هاپشمارميرود ، كه يكي دوروزقبل پايان يافت . در ملاقات هيئت بارئيس جمهورغلام اسحاق خان چنين وانمودگرديد كه گويا پاكستان مذاكراتي راكه قراراست درآينده آغازگردد اهميت زياد ميدهد . اين مطلب را يكولاي كوزيريف بعدازبازگشت ازاسلام اباد طي يك كنفرانس مطبوعاتي درماسكو اظهارنمود .
وي گفت مقامات پاكستاني متقاعد شدند به اينكه يگانه مانع برقراري روابط مستحكم ميان كشورهاي پاكستان وروسيه همانا قضيه افغانستان است .
گوزيريف علاوه كردگرچه تاحال طرفين راجع به امورمهم اختلافي توافق نكرده اند ولي با آن هم راجع به بعضي جوانب حل معضله اتفاق راي صورت گرفته است نامبرده افزودبخش عمده قضيه رااجراي آتش بس كامل تشكيل ميدهد كه موقف سخت مجاهدين مانع بزرگي درراه آن مي باشد .

فتوحات عظيم مجاهدين درولايت هرات روحيه گردانندگان رژيم راضعيف ساخته است

فتوحات عظيم مجاهدين درولايت هرات بتاريخ ۷۰/۵/۲۳ عمليات مشترك كه مجاهدين حزب درآن نقش عمده داشتند بالاي پوسته هاي دولتي درمنطقه شوررود ولسوالي گلران صورت گرفت (٤) كندك دشمن به مجاهدين جبهات مولوي صاحب سراج ، زمان خان وغلام فاروق شهيد تسليم گرديد كه غنايم بدست آمده قرارذيل است .
۱- توپ ۷٦ ملي متري صحرا دوميل
۲- زيكويك ۳ ميل
۳- دهشكه ۵ ميل
٤- راكت RPG-7 ۵ ميل
۵- ماشين دارتعرضي ۲ ميل
٦- كلاشينكوف ٦۰ ميل
۷- موتربوينگ هشت سلندره ٦ عراده
همچنان ۵۰ خانواده مليشاي دولتي نيز خود را به مجاهدين تسليم نمودند.
بتاريخ ۷۰/۵/۲۹ ساعت يك بجه بعد از ظهر عمليات بالاي پوسته هاي مليشه درولسوالي گلران صورت گرفت اين عمليات تاساعت ده بجه شب ادامه داشت كه درنتيجه هشتاد نفر اسير وغنايم ذيل بدست مجاهدين افتاد:
۱- سلاح خفيف ۸۵ ميل
۲- زيكويك ۳ ميل
۳- هاوان ۵ ميل
از مجاهدين يكتن شهيد وپنج تن ديگر زخمي گرديدند.

دكنړولايت دجهاد دامارت اعلاميه

دحزب اسلامي مجاهدينو په كنړكي خپل مراكز بيرته نيولي اودجميل الرحمن گروپونه يي له دغو اشغال شوومراكزواوله خپلوگني شمير مراكزونه په شاتمبولي . دحزب اسلامي له خواچي دسولي اوروغي جوړي كوم معقول اقتراحات اعلان شوي وو،دجميل الرحمن له خواونه منلي شول اودجگړي لاره يي غوره كړه چي په نتيجه كي له دي سرنوشت سره مخامخ شول . اوس چي په كنړكي دمولوي جميل الرحمن ددلي سره هره معامله كيږي مسئوليت به يي دده په غاړه وي . موږ اوس هم روغي جوړي ته تياريو اوله جنگ اوجگړي نه كركه لرو. په كنړكي دواحدي اداري دجوړيدو، دامنيت دتامين او دشريعت دنفاذ غوښتونكي يو اوغواړو داسي دسولي او امن فضا رامنځ ته شي چي ټول جهادي ځواكونه دوروروولي په فضا كي دبرابري په بنياد دفعاليت كولو حق ولري . اود دعوت اوجهادپه كاركي مصروف وي خواخبره پوځل بيا اعلانووچي دافغانستان په هيڅ گوټ كي، دهيچا دزور اوتحميلي سلطه نه منو اوترهغه به جهادته ادامه وركوو ترڅو ولس ته په هره مستوي كي دخپل مشرتابه دانتخاب حق وركړلي شي . دافغانستان په هيڅ گوټ كي هيڅوك به دافغان ولس پرهيڅ برخي په زور سره حكومت ونشي كړي .
موږبه تل دمظلوم ولس په څنگ كي دهغوواكدارانو مقابله كووچي دلوبي احساس كوي،خلك حقيرشميري اوپه زور په خلكو دحكومت كولو هڅه كوي .

روسي پوځونو د بالتيك دجمهوريتونو مهم حكومتي ځايونه اشغال كړي دي

مسكو دزمري ۲۹ نيته :
دشوروي اتحادپوځي قواوودهغه هيواددبالتيك په جمهوريتونو لتوانيا، استونيا اولتويا كي مهم حكومتي ځايونه اشغال كړي دي مگردغو دريو جمهوريتونو مشران وائي چي دوي به دشوروي نوي حكومت ردكړي اودنوي اضطراري كميټي فرمانونه به چي گورباچوف ئي له قدرت څخه لري كړ ونه مني .
په عين حال كي دنوي حكومت درامينځ ته كيدو راهيسي دلړي نفردوژل كيدوريوټ وكړ شوي دي .
دشوروي عسكرودبوه ملي بس دريوردلتويا په پايتخت كه ووژه اويومسافرتي په دواړو پښويه داسي وخت كي تيې كړچي دغه موټرپوي ممنوعه سيمي ته ورغي دلتوانيا دحكومت بونطاق وويل چي تقريبا اتياتانكونه په ويلونوس كي دپارلمان دوداني څخه وتلي دي .

اعلاميه رياست امورسياسي درارابطه باكنفرانس سه جانبه تهران

حزب اسلامي افغانستان دركنفرانس تهران درصورت تامين شرايط آتي اشتراك خواهدكرد.
۱- طبق توافق قبلي دركنفرانس سه جانبه منعقده اسلام آباد بايد نخست احزاب جهادي درمورد طرحي براي حل قضيه افغانستان باهم به توافق برسند سپس كنفرانس سه جانبه داير گردد.
۲- همه احزاب مؤثر بشمول شوري ائتلاف بايد به كنفرانس دعوت شوند .
۳- درباره تركيب اعضاي هيئت شركت كننده دركنفرانس بايد احزاب موثر تصميم گيرند.
٤- رئيس هيئت افغاني بايد درنتيجه توافق ميان احزاب مؤثر انتخاب گردد.
۵- به نمايندگي ازملت افغان بايد تنها مجاهدين اظهار نظرنموده موقف واحدي اتخاذ نمايند ، سپس كشورهاي همسايه ودوست ازاين موقف پشتيباني و تائيدنمايند.
٦- ايران بايد قبل ازتدوير اين كنفرانس دفاتر احزابي را كه باعث بستنش شده است باز نموده ومحدوديت هاوبرخورد امتيازي بابرخي ازاحزاب رامنتفي سازد.

تانك رژيم مزدوركه توسط مجاهدين سربكف به غنيمت گرفته شده است

بنام خدائيكه بي اندازه مهربان نهايت رحيم است

سر مقاله

بحران فعلي روسيه انجام طبيعي نظام كمونيستي است

بدنبال بركناري گرباچوف وگرفتاري اوتوسط جناح محافظه كارحزب كمونيست سروصداي عجيبي درجهان خلق شده وبيشترتبليغات رسانه هاي گروهي جهان اغلبا برتحليل و تبصره روي همين موضوع اختصاص يافته است ، گرچه ارائه تصوير درستي ازجريانات روسيه كاري مشكلي است وهيچكسي نميتواند عاقبت بحران روسيه راكماحقه پيش بيني كند، ولي آنچه مسلم است، همينست كه حوادث جاري روسيه ، نتيجه طبيعي نظام منحط كمونيزم است وقبلاً نيز چنين تصورمي شد كه اين نظام مبتني بروحشت وبربريت،انجامي غيرازين ندارد .
ازهمان روزهاي اولي كه گرباچوف برنامه اصلاحي خودرا براي بقاي كمونيزم وحل وفصل مشكلات اقتصادي روسيه اعلام نمود ، همواره مورد اعتراض كمونيست هاي تندرو حزب كمونيست قرارداشت واحتمال آن ميرفت كه او قبل ازين حادثه هدف حملات نابود كننده جناح محافظه كارحزب قرارميگرفت ، مگر نفوذ عميق گرباچوف دركميته مركزي وحركات تهديد آميز اوعليه مخالفين باعث آن گرديد كه براي چند سال ديگردوام نمايد .
هرچندكه پروگرام هاي اصلاحي گرباچوف ازنظرمحافظه كاران نوع انعطاف پذيري وانحراف ازاصول ماركسيزم لينينزم تلقي ميگرديد، ولي حقيقت امراينست كه اويا ايجاد اصلاحات مورد نظرش ميخواست خدمتي به كمونيزم نمايد ونظام را ازمواجهه بامشكلاتي كه هرلحظه آنراتهديد ميكرد، نجات بدهد . چنانچه سياست گرباچوف مبني برتحمل شكست و اخراج قواي سرخ ازافغانستان ، گرچه ظاهرا يكحركت مثبت وعادلانه تعبيرمي گرديد ، ولي گرباچوف بااين عمل خود ازيكسو تلفات بيشتر قوايش راجلوگرفت و ازجانب ديگربجهانيان چنان وانمودكردكه رژيم كابل بدون حضور قواي سرخ هم قادربه امرارحيات است وبراي نگهداشت رژيم برمسند قدرت هزينه هاي بيشتري رانسبت به گذشته صرف كرد وتاامروزرژيم كابل با زبان دراز واتخاذ چهره حق بجانب خودرا قادربه دفاع مستقلانه ازحريم افغانستان معرفي ميدارد .
ابتكارعمل گرباچوف درزمان اقتدارش اين بودكه برخلاف سلفش ازجريان آزاديخواهي واصلاحات جانب داري كرد و حلقه هاي تصميم گيري را درروسيه قانع كرد كه ديگرباروش هاي كهنه قبلي كشور رانميشود اداره كرد، بهتراست تاباا دادن يكسري آزادي هاو ايجاد اصلاحات روسيه را ازخطرسقوط هولناك درامان نگهداشت .
جسارت بي نظيرگرباچوف بازير پاگذاشتن روشهاي سنتي رهبران

با نجيب ودارودسته قاتل وخائنش بهيچ صورتي در رابطه با آينده افغانستان مذاكره صورت نمی گيرد

زوړامام اوزړي تراویح

سباوون

دګورباچوف پرضد پوځي اقدام دروس کوډبړن کمونیستي رژیم له مخه پلو واخیست اودهغه منافقانه اودوه اړخیزماهیت بې پوره په ډاګه کړ .

په روس کي دکمونیستي رژیم له بنسټګرلیان څخه واخله بیا ترګورباچوف دټولو څپلسریو واکمنوواکمني دلاروچارو ترمنځ دایوټکی ګډ لیده شي چې هغوي دخلکو په جسمونو حکومت کړي نه بې په زړونو . اوهمدالاصل دي چې کله هم داحکومتونه له منځه وړل شوي اوراتسکرورکړاي شوي . فکرته کیږي چې په ګرده روسیه کي پري چاواښیکه قدرڅم توبه کړي وي ، ځکه ددغوحکومتو اوولس ترمنځ هیڅ ډول دخواخوږي اړیکي سره نه وي .

لیلن په تګي تګماري اوډیرډیو په ملاتړاقتدارته ورسید . اقتدارته دلیلن درسیدو ورځي دروسي ملت لپاره دتیره‌بختي اوبدبختي توره شپه له ځانه سره راوړه . دنسبتاً آرام اوهوسا اوسیاژوند ځاي مرګ ژوبلي اووحشت ونیو . دکمونیستانو ادعایي جنت خوهماغه ددجال جنت ؤ چې په حقیقت کي دارووتکي دوزخ ؤ. بده خبره لاداچي ددغه دوزخ مصیبتونو اوکړاوونو ته هیڅ‌امصیبت اوکړاونشوویلاي، اوکه کوم تریه داسي راپیداشو چې دهغه دمصیبتونوپه بیانولو به بې خوله پرانیسته ، نوبیا به بې دهستي له پاڼي نوم پاك شوي اوپه داسي تعذیبونو اوکړاوونوبه اړول شوي ووچي پوښتنه بې مکره .

بیاکله چې ستالین ته وارورسید، نو هغه څه بې وکړل چې دمساواتواوبرابري مدعي څه چې چنګیز به هم نه وي کړي .

چې لاپه کولو به بې ورته ځان بدبنکاریده . بیګناه اولس اووګري به مجبوریدل چې دخپل کوراوتبرجاسوسي وکړي . پلاریه له زویه اومیره له ښځي په اندیښنه اوتراوه کي ؤ . نه له ماویره ترهه کوه اوزه له تا . اوچې په دروغ رښتیا به درپسې څه ووبل شول بیادي مرګ مبارك شه ، اوکه په تصیبونو له مرګه بچ پاتي کیږي ، نوبیادي ځاي دسایبریاسیاهچالونه اوزنداتونه دي ، چې ورکي په ژوند پوري په تنګ بې . مرګ به غواړي اووي به نه په کمونستي نظاموکي دمرګ قدرهم پیداکیږي . بابه دي پخپله وژني اویاکه ژوندي پاتي شوي بیابه نه مرګ غواړي ، خوافسوس چې مرګي به پیښه نه کوي .

هرا دبشرددټول تاریخ مصیبتونه اوکړاوونه دستالین دواکمني دمودي کسمه برخه هم نشي کیداي .

خبره دکودتاګانو اوڅپلسریوده . داکتبرانقلاب ، لکه په پیل ئي کي موجي ووبل، په هیڅ توګه دربښتیانیو انقلابونوپه کته ګوري اوکتارکي نشي راتلي ، ځکه هغه یو وارداتي انقلاب و چې پرروسي ملت وتپل شو. په همدي توګه ، دستالین اقتدارته درسیدوکیسه هم که دلیلن ترهغي زیاته بوګنوونکي اوغموونکي نه وي نوپه هیڅ جوړتري کمه هم نده .

دستالین دڅپلسري په باب خرلیان هم په خپل مشهوروصیت کي تشویش اوتراره غرګنده کړي وه .

دما لنکوف، خروشچف او لاورنتي بریاله خوابیا دستالین پرزهرو وژل کیدل یو داسي بزدلانه کودتایي عمل ؤ،چې تاریخ بې ساري کم سړدلاي شي ؛ اوپه اصطلاح دروس په ادعایي کمونیستي ټولنه کي خو ورته هیڅ ګروه نه احساسیږي ، خوظلم اوزورزیاتي دله منځه وړو چې بله هیڅ لار اوچار ، پاتي نه وي ، تواخبر څه باید وشي ؟ وګړي همداسي لاس تروني کښیني ، اوهیڅ هم ونکړي؟

پخپله بیا له خروشچوف سره هم همداسي یوه کانه وشوه ، په زور له قدرته ګوښه کړشو ، خوڅه وشول چې دتوروډغسي اعمال کودتاګاني بللي شي او ددي جناپانو نه !!

اوکله چې بریژنیف د اقتدار په جنګ کي ګټندوي شو، تر یوځل بیابي دخروشچوف دوخت دیوڅه نسبي آزادي پرځاي استبداد اوزورواکي له زعوورکړ، اودا ډنهوره بې وغږوله چې اصلاً کمونیستي نظام یوډیکتاتوري نظام دي .

ګلوته کلو نه اوبیرپه بیرپه وخت په کاردي چې خلك دپانګوالي نظام له تبلیغه لري وساتل شي ، او دا کار د " کا- جي‌بي " غوندي جهنمي سازمانونه کولاي شي . خووخت اوحالاتو وښوده چې بریژنیف څومره په غلطه دي . ظلم او زورزیاتي دکمونیستي نظام په خته کي اغزل شوي ،که هرڅومره ډیموکراسي اویاډیکتاتوري بڼه ورکړه شي ، بیا به هم هماغه شي وي .

اندروپوف اوچرینتنکوډهم وار په وار دډیموکراسي اوډیکتاتوري لار خپله کړه ،خوهیڅ رنایي ارمغان نکړه .

لیکن کوم څه چې دګورباچوف په ګټه وو ، هغه بې ځواني وه . لویدیځ مبصرینو به داپوتکي ډیرتبلیغاوه چې ګورباچوف پردي دمنتي اوستایني وړدي ، چې نوموړي دروس د تورووالکمنو په مقایسه نسبتا ځوان دي ، اوکیداي شي چې په روسي ټولنه کي مثبت بدلونونه رامنځته کړي . داچې ګورباچوف ترکومي اندازي دلویدیزوالو په ذوق پوره خوت ، له دي سره زموږ کارنشته ، خوڅومره پوري چې خبره دافغان جهاد اوافغان کشالي ده ګورباچوف په دي باب تر اندازي وتلي سخت دریځي ؤ، سکه چې باید په بین الحکومتي جګړه کي تري کاروانحستل شي . همدي په اصطلاح دسولي علمبردار ګورباچوف زموږ دبیګناه مظلوم اولس دتباهۍ له پاره په شکوټرشکو یو دناڅیبه بجیب په واك کي ورکړل . داډیموکراسي خوښي لویدیزوال جناپان ولي دګورباچوف له خوا دروس ، دنه داسلامي جمهوریتود پاحونو په ځکولو سترګي پټوي اودسولي دنوبل جایزه ورکوي.

ګورباچوف څوزموږ دروان وپاړمن اسلامي انقلاب دناکامولو اومنحرفولو له پاره هغه لاري چاري په مخکي ونیولي چې

دافغانستان مسئله
اوس دیوبین المللي کانفرانس وړاندیز

قریب الرحمن "سعید"

ملګري ملتونه غواړي دمنځني ختیځ دسولي دملاکراتو په څیر دافغانستان دلانجې دحل په خاطربوبین المللي کانفرانس راوغواړي داکانفرانس به دملګروملتودسرمنشي پیرزدي کوئیار ترمشري لاندي جوړشي چې په هغه کي به پاکستان ، ایران په کابل کي حاکم رژیم ، مجاهدین، امریکا ، سعودي عربستان اوروس ګډون کړي منابع ، زیاتوي چې داسلام اباد په دري اړخیزي غونډي کي چې دپاکستان ، ایران اومجاهدینو ترمینځ وشوه دري واړه خوا وې دافغانستان دلانجې په سیاسي حل راضي شوي ادعاشوي چې مجاهدین په دي راضي شوي چې له کابل رژیم پرته واکترنجیب ته هم په دي غونډه کي دګډون حق ورکړي !!

په عین حال کي دروسي مشر میخائیل ګوربه چوف دایران دحکومت دمشرښاغلي رفسنجاني څخه غوښتنه کړې ترڅو دافغانستان دلانجې دحل په هکله ورسره تعاون وکړي .

دملګرو ملتونو سرمنشي چې لاپخوایې دافغانستان دلانجې دحل له پاره بوپنځه ماده بې پلان جوړاو وړاندي کړې و اوس دخپل دي پروګرام دبلي کولو په خاطر داسي یوکانفرانس جوړول غواړي چې په هغه کي په کابل کي دروس په لاس جوړشوي رژیم ته هم برخه ورکړل شي .

ښکاره ده چې دملګرو ملتونو سرمنشي په خپله خوښه داپروګرام نه دي اعلان کړي بلکه هغه ته دا مشوره ورکړل شوې ترڅوهغه پلان چې دسترو قدرتونو دموافقي وروسته ترتیب اوبیا دکوئیار په واسطه اعلان شوه‌پیاده کولو له پاره عملي لارې چارې ولټوي. په دي لړکي دروس اوامریکا دجمهوررئیسانو ترمینځ دجولاي د ۳۰ او۳۱ نیټوروسمي خبري اترې چې په مسکوکي ترسره شوي پوره اهمیت لري که څه هم په دي خبرو اتروکي دافغانستان دلانجي د حل په هکله په مستقیمه توګه څه ونه ویل شول خوپه دي لړکي ددوي لخوا دملګروملتوطرحې کلك تائید اوملاتړاپه ډاګه کوي چې دوي په هرقیمت چې وي دلانجې دحل له پاره دیوداسي سوله ایز پلان دپیاده کولو هڅه کوي چې په هغې کي په کابل کي حاکم کمونست رژیم ته هم پوره سیاسي حقوق ورکړل شوي دي اوپه دي ترتیب ټول هغه تړونونه چې دکابل دواکدارانو او روسانو ترمینځ په دي تیره لسیزه کي شوي یو رسمي حیثیت پیداکړي .

دروسانو دلچسپي اوس دافغانستان دلانجې دیوداسي حل له پاره چې په کي دنجیب رژیم پوره اوله یوه مخي له منځه ولاړشي کم شوي . دژنیو دتړون له مخه ، چې د ۱۹۸۸ عیسوي کال دمي په میاشت کي دژنیو په ښارکي دپاکستان اودکابل دړژیم دبهرنیو چارو دوزیرانو لخوا لاسلیک شواوروس اوامریکا دهغه دضمانت کونکو په حیث پري امضا وکړه ، روسانو ډیري هڅې وکړي ترڅودمجاهدینو دمشرانو سره تماسونه ونیسي او کوښش بې کاوه چې دمجاهدینو مشرانو سره یو ډول تفاهم ته ورسیږي که څه هم دژنیو تړون دروسانو دابرومندانه په شاتګ دپاره بوښه سند و خوهغوي دومره وارخطا وچې که دژنیو تړون لاسلیک شوي هم نه واي نو هغوي به خامخا دافغانستان څخه وتل . دژنیوله تړون دمخه دمجاهدینو په صفونوکي پوره اتحاد اویووالي لیدل کیده اوکله چې دژنیو تړون د پاکستان دشهید جمهوررئیس جنرال محمد ضیاء الحق دمخالفت سره سره دجونیجو حکومت اودهغه وخت دخارجه چارو دوزیر زین نوراني په واسطه امضاء شونوبه افغانستان کي دموقت انتقالي حکومت طرحه له مینځه ووتله اوروسانو دکابل رژیم ته خپل کومکونه فوق العاده زیات کړل دبلي خوانه دمجاهدینو صفونو کي هم دښمنانو درزونه راپیداکړل اویه دي ترتیب دکابل رژیم تړنن پوري بقا پیداکړه دژنیو تړون که څه هم دمجاهدینو لخوا په مجموعي توګه مسترد شو خو دمجاهدینو ځیني مشرانو په همغي کي هم دښه اوبدکلمات راوایستل اونړي بې په خپل متحده موضع باندي شکسته کړه ، دملګرو ملتو دپنځه ماده بې پلان په هکله هم دمجاهدینو واحد موقف را څرګندنه شوځینو هغه تائید کړاوځینو بې په کلکه مخالفت وکړ، دغه تشتت دکوهارغابنده بڼ سیوان ته شرایط برابرکړل ترڅوروانې چې په دغې پروسه کي چې شروع شوي ضرورنه ده چې ټول افغانان برخه واخلي که نیمائي هم یکې ګډون وکړي نوموږ به خپل کارمخته وړو، څوک چې ددي قطارنه پاتي کیدل غواړي پاتي دي شي .

دبلي خوانه دروسي مقاماتو سره دمجاهدینو دمختلفو تنظیمونو دهیئتونو متفرق اوجلاجلا لیدلوکتنو روسان دي تقطي ته متوجه کړل چې دمجاهدینو ترمینځ کوم واحد دریځ وجودنلري . هریوئي خپل پروګرام بیانوي : یوه معتبره منبع له روسانو نه نقل قول کوي چې وایې مجاهدین کومه مشترکه ستراتیژي نلري دوي یوبل په ختمولو اوله منځه وړولو کي مهارت لري اوبس . داچې مجاهدین ولي په خپله مشترك دښمن ته چې افغانستان ئې په مکمله توګه تباه کړیه میلیونونو انسانان بې ووژل اونوربې مهاجرکړي دومره نژدي کیږي داسي تکې دي چې مجاهدین په خپله باید ورته توجه وکړي اوس داپه داګه نه ده چې دافغانستان دموضوع په هکله دبین المللي کانفرانس دجوړولو په برخه کي کوم جهادي مشران رضایت ښکاره کوي، چې ملګري ملتونه پري داده شوي اوغواړي هغوي په دي پروسه کي ګډکړي، داسلام آباد په غونډه کي ټولو جهادي تنظیمونو دپاکستان اوایران دخارجه وزیرانو په شمول دااعلان وکړچې دنجیب رژیم غیرقانوني دي اوباید له منځه ولاړشي اوپه ځاي بې یو منتخب اسلامي حکومت منځته راشي، داچې دتهران راتلونکي کانفرانس چې ممکن په ۲۷ داګست جوړشي په کومو موضوعاتو بحث کوي لاڅرګند نه دي خودتهران حکومت اودکابل دړژیم اړیکي له یوي خوا اودتهران اوروسانو نژدي روابط له بلې خوا دایه ډاګه کوي چې شاید تهران ورو ورو دمجاهدینو یو شمیرمشران په دي راضي کړي چې دنجیب رژیم اویا دهغي ګوند ته دافغانستان دلانجي دیوسیاسي حل په پروسه کي ځاي ورکړي دښاغلي رفسنجاني څخه دافغانستان دلانجي دحل له پاره دګورباچوف غوښتنه په داسي وخت کي کیږي چې له یوي خوا په تهران کي ددري اړخیزه کانفرانس له پاره تیاري نیوله کیږي اودبلي خوا دپاکستان سترعالي رتبه هیئتونه یوپه بل پسي ایران ته ځي ، ایران نن په دي موضوع کي ډیرګرم ښکاري اوشاید دایران حکومت ډیر کوښښ وکړي چې دپاکستان صدراعظم محمد نوازشریف اورئیس جمهورغلام اسحق خان په دي قانع کړي ترڅو دلانجي په سوله ایزحل کي دخلق اوپرچم حزب (دوطن ګوند) ته هم برخه ورکړل شي . دګورباچوف ددي غوښتني یودلیل هم دادي چې په هغه څه چې دوه کاله دمخه پري قانع وو اوس رضایت نلري هغه وخت دوي یواځي دافغاني کمونستانو دژوند دتضمین غوښتنه کوله ، خواوس چې نجیب لاهم پخپل ځاي پاتي دي اودمجاهدینو ترمینځ هم کوم تفاهم اواتحاد نشته دغو واقعیتونو روسانوته داڅه او جرئت ورښیلي څوداافغانستان په راتلونکي کي خپلو ګوډاګیانوته دبرخي اخیستلو غوښتنه وکړي ، بې له شکه ایران هم چې دپخوانه په افغانستان کي دیو ضعیف اونوروته داحتیاج ورحکومت په هڅه کي دي پوره دلچسپي لري ترڅوهلته دسیاسي لاري نه ائتلافي حکومت منځته راشي ممکن په دي درامه کي دمجاهدینو هغه مشران چې دنجیب سره دلیدلو په خاطر ان ترژنیوپوري سفرونه کړي هم پوره برخمن وي .

دادمجاهدینو دقیادت له پاره یوځل بیا دسترامتحان اوازمیښت وګړدي چې دحالاتوپوره څیړنه وکړي اوحالات په خپله ګټه وڅرخوي دتدبیر څخه کاراواخلي . ځکه ګرده نړي ان تردي چې په اسلامي هیوادوکي واکمن حکومتونه ټول په افغانستان کي دیوقوي اسلامي حکومت له جوړیښت څخه اندیښمن دي . ددي نه علاوه داسي معلومیږي چې زموږمیزبان ملك پاکستان هم دخپلي پخواني پالیسي (په افغانستان کي دنجیب رژیم سقوط اوپرځاي بې دمجاهدینو په لاس دجوړشوي اسلامي حکومت) پرخلاف اوس دافغانستان دلانجي دسوله ایزحل له پاره ګام پورته کړي ددریم داپریل دافغان سیل په غونډه کي چې دپاکستان دجمهور رئیس غلام اسحق خان ترصدارت لاندي وشوه دغونډي ګډونکوټولوعالي رتبه مامورینو دانظرورکړچې باید دافغانستان دموضوع دسیاسي حل له پاره کاروشي . هغوي مجاهدین په دي ملامته کړل اوويي ویل چې دروسي پوځونو دویستلووروسته مجاهدین په دي بریالي نه شول چې دقوي توازن پخپله ګټه وڅرخوي اوپه کابل کي دحاکم رژیم اودنجیب دولګي جوړشوي ځواك را وپرزوي .

دایه یواځي دپاکستان حکومت نه وي بلکه دګردي نړي دوستان دي که دښمنان ټول همدا یوډول وایي چې مجاهدینو په نظامي برخه کي کومه ستره سوبه نه ده ترلاسه کړي په دي اساس باید لانجې دسیاسي حل په لورقدمونه پورته شي، ممکن په دي برخه کي دمجاهدینو ځیني مبالغه ایزودعوو هم کومك کړي وي . دمثال په توګه په دي ورځوکي دکابل جلال اباد لویه لار دمجاهدینو په کنترول کي راغله ، یولس ورځي جنګ وشو اومجاهدینو ښایسته بري هم ترلاسه کړ خودکابل درژیم دحملې په جریان کي مجاهدینو بیرته خپل سنګرونه (په تاکتیکي دول !!) پرېښودل اویه شاشول . دحملي دشروع ترمخه ځیني ناعاقبت اندیشو قوماندانانو حتي دیپلوماتیکو سرچینو ته هم دخپلي ستري حملي خبرورکړي اوهغوي بې ستربري ته منتظر پري ایښي وو ، خوکله چې هغه ستربري منځته رانغي ټولو دااحساس وکړ چې په افغانستان کي نظامي سوبه اوس ممکن نه ده . حقیقت دادي چې لکه دپخوایه شان ځیني هغه کسان چې دکابل درژیم سره تړون لري هغوي غواړي ذهنیتونه تخریب او دمجاهدینو په هکله بې داسي بدل کړي چې ګویا مجاهدین نه شي کولاي نظامي سوبه ترلاسه کړي .

حال داچې مجاهدین دپخوانه قوي ، منظم اوپه وسله تریخوابه سنبال دي هغه څه چې دپخوایه نسبت په کي کمښت احساسیږي هغه دیوې قوماندي اووحدت نشتوالی دي .

همدا اوس که دمجاهدینو سیاسي قیادت دتدبرڅخه کاراواخلي اویودبل څخه دلري والي په ځاي یو دبل ترڅنګ کیښني اوخپل جهادي اوتبلیغاتي قوتونه یودبل په خلاف داستعمال په ځاي یودبل ترڅنګ دګډ دښمن پرضد استعمال کړي نو دنړي دسیاسي ذهنونو افتراګاني چې دمجاهدینو په خلاف بې جوړوي اودهغوي دسیاسي حل جال چې زموږ داسلامي انقلاب دختمولو په خاطربې غوړولي، له یوه سره له منځه ولاړشي اودنظامي سوبې عظمت به نړیوالوته ثابت کړي . په هغه وخت کي به بیادملګرومتلوسرمنشي دلانجي دحل دپاره نه کوم بین المللي سیمینار راغوښتوته اړکیږي اونه به ګورباچوف دایران دجمهوررئیس څخه دلانجي دحل له پاره کومك غواړي بلکه هرڅوك چې مراجعه کوي هغه به یواځې اویواځې دمجاهدینو قیادت ته وي .

زموږ دجهاد په وړاندې نوي اوزوړ روسي قیادت کوم توپیر نه لري

ناګار

دګورباچوف په خلع کیدلو ګرده نړي حیرانونکو اندیښنوپه غیږکي واخیسته ، رښتیاهم دکمونیزم له پوځي ماتي اودسري امپراتوري په زړه کي دآزادي دغوښتونو له توپاني کیدلو وروسته هیچاداتکل نه شوکولي، چې دروس پرزخمي غاړي به یوځل بیا هغه خپسه کښني، چې دهمداسي ستروجارحیتونو ذمه وارګڼل کیږي . خو دهر قیاس اوګومان پرضد دجاسوسي وینې خوړونکي ټولي « کې جي بي » دګمراه لویدیځ دخوش فهمي پرخلاف یوځل بیا کمونیزم دتانك په سرسپوردهیوادلارو کوحوته را وایست، اودنړیوال تبلیغاتي تناظر مخه بې دروس پرخو اراواړوله .

خوله دي سره سره چې دروس پوځي تکنالوژي دافغان مجاهدینو له خواشرمیدلي شکست خوړلي، اوبریوځي ډګرسخته بې اعتباره شریده ، ولي بیاهم دامریکاپه ګډون ډارن لویدیځ پدي ویره کي دي، چې دروس له خواکوم برغل پري ونشي، لکه چې په همدي اړه هرچاخپل پوځي مشاورین رابللي، اوپدي باب ورسره سلامشوره کوي . که څه هم دروس زخمي بدن اوبیاپدي اوسني مغشوش حالت کي هیڅکله هم دداسي یوي پیښې جوګه کیدلي نشي، خوبیاهم یوګنید لولویدیزوالو راتلونکي (۴۸) ساعته پدي باب ډیرمهم بللي، او په ځانګړي ډول بې څیړي .

دروس له دغه کودتایي بدلونه ډیرزورداتیجه اخیستل کیدلي شي ، چې مدرني تکنالوژي اوماشیني دور پانګوال لویدیځ څومره بې سکونه کړي ، چې خبره بې ورته تریزدلي رسولي ده . دروس دملت لپاره رښتیاهم ګورباچوف باید ترنوروکمونستي مشرانو ډیرغوره وي . ځکه څه کم یوه پیړۍ ددیکتاتوري په وحشیانه فضا کي ساتل شوي هیواددغه نسبي آزادي چې په برخه شوي بې وه ، یوه ستره معجزه ګڼله ، همدا ډول دامریکاپه مشري دلویدیځ لپاره یوداسي کمونستي شخصیت چې بیځي دخپلواسلافو پرضداودکمونیزم دټولي سیستم پرځاي دلویدیځ آزادمارکیټ اوپه اصطلاح دهغوي جمهوریت ته میلان لري، ختیځي اروپاته اجازه ورکوي، چې دسره پوځ له قیده آزاده اودیوه نوي ژوند پرلورګامونه واخلي، سوړجنګ ختم ، اودخپلو حلیفانو سره دلویدیځ پرضد له بواځې داچې ملګر تبانه کوي، اوګرددنړونونه مسخه کوي ، بلکي له جارحیت سره څنګ پرڅنګ ودریږي ، اود" بوش " دنوي نړیوال نظام په وړاندي دوینښته قدري عکس العمل هم نه ښکاره کوي، او دنړیوال امن اوسولي په نامه داهر څه بدرګه کوي، نوځکه دهغه له منځه تګ باید دامریکا اولویدیځ لپاره ګران تمام شي . خوترکومه ځایه چې دمنځني آسیاپه مسلمانانو پوري اړه لري، نوهلته دروس دنورو آزادي غوښتونکو جمهوریتونوته متفاوت اوهغه دچاخبره دموراومیري سلوك ورسره کیده . پدي ماناچې که دبالتیك جمهوریتونو به دآزادي لپاره چغه وهله نودګورباچوف حکومت به ورسره دخبرومعتدله لاره نیوله ، خوڅه وخت چې دمنځني آسیامسلمانانو دآزادي غږ پورته کړ، نوګورباچوف داخوګښت په سره پوځ دومره وټکاو، چې په بل یومحکوم جمهوریت کي بې هم مثال نشي موندل کیدلي . داڅه وو ؟ ، داځکه چې ګورباچوف دامریکا په مشري له لویدیځ سره دي تفاهم ته رسیدلي و، چې په نړي کي اسلامي تحریکونه داسلامي ویښتابه لپاره لمن وهي، اوکه چیري دالړي همداسي فعاله پاتي شي، نوبیا به بې ختیځ اولویدیځ دراقابو کولو توان ونه لري . همداډول هغه کسي چې په نړي کي په فکري لحاظ رامنځ ته شوي دپانګوالي اوکمونیزم له بشپړي ناکامي وروسته په بې داسلام مقدس دین پوره کوي، نوځکه باید په یوه ګډ نړیوال پلان کاروشي، ترڅو داسلامي غورځنګ مخه پري دتل لپاره ونیول شي . دهمدي کفري اوطاغوتي هیلي دترسره کیدلولپاره بوش خپل نوي نړیوال نظام اختراع کړ، اودروسي ځل لپاره بې په داسي یوه ځاي کي پلي کړ، چې په عقیدوي اواقتصادي دواړولحاظو دمسلمانانو دزړه اومرکزحیثیت لري دنړیوال کفرله دي بریالي تجربې نه وروسته موږولیدل، چې دمسلمانانو اواسلامي هیوادونو اودهغوي دقضایاوو تریښو لاندي کولو زیاراوهڅي خومره په سره سینه ګاللي کیږي . چې فلسطین اوافغان جهادېي غوره بیلګې دي . همداسي اسلامي هیوادپاکستان دکشمیر پرسرله هندسره په جنګ اخته کړل، اوپاپري داتومي تنصیباتو دلرلو په جرم مرستي بندیدل ، اویاایران همدي ته په ورته مسایلو کي راښکیلل هغه کافرانه پروګرام و، چې په پرله پسي ډول باید په اسلامي نړي کي پلي شوي وي . په عراق دلویدیزومتحدینو وحشتناکه اوتباه کوونکي بمباري دسوله غوښتونکي ګورباچوف یووینته هم زیزنه کړ . همداسي کوم سکاد اوهوایي بمونه چې دګورباچوف دمشرتابه په اوږدوکي پرافغان مسلمان ولس راووریدل، په تاریخ کي مثال نه لري، اوبري سربیره لاداچي ګورباچوف دلویدیځ خیرات پسې کچکول راواخیست ، اوزموږ دمومن ملت پرضد بې خپل تجدید شوي ګوډاکي نجیب دومره پیاوړي کړ، چې تریخوابي زیات دوینو لښتي روان کړل . موږیه دعوه سرّه ویلي شو، چې ګورباچوف دافغان مسلمان ملت په دښمني کي له خپلو اسلافو نه هم بدترو . پاتي شوه ، دلویدیځ او امریکا خبره ، توهغوي باید پدي خبه شي، چې خپل متحد ملګري بې له اقتداره راوغورځیده نه اسلامي نړي . اوکه دروس ملت هم ځیرشي ، نوبوه به شي ، چې له دي ځوریدلي ملت سره دګورباچوف دیموکراتیکه اوپه نسبي آزادي ولاړه وضعه اوچلند دزوال متونکي کمونستي رژیم اړتباوه ، ځکه دوي اړوو، چې دروس ملاماتي اقتصادځواکمن اودهیواد والو غوښتنوته مثبت ځواب ووایي، اوداکار دلویدیځ له مرستو پرته ترسره کیدلي نه شو، دلویدیځ له مرستوسره غربي دیموکراسي هم ورو، ورو، روس ته رانقلیدله ، چې نتایج بې موږولیدل خوزموږ دجهاد په اړیابد داله پامه ونه غورځوچې دلویدیځ دخوښې وړ ګورباچوف هم دافغانستان پرمومن ولس کومه صرفه نده کړي، اونوي افراطي قیادت به هم داچلند خپل کړي . خوهغه څه چې موږبې باید دخپل جهاد په ګټه ویولو، توهغه وادي، چې له افراطي کمونستانو سره به دلویدیځ له حده وتي مرستي وتمیږي ، چې تاوده به بې دنجیب ګوډاکي رژیم ته هم راورسیږي اوپه‌دي توګه به دجهادي ګوزارونو لاندي نورهم تخفیراوتذلیل شي، بله دا چې دلویدیځ دهمدردي کمښت به دروس دملت داقتصادي کمزوري قهراوغضب نورهم راوپاروي . اوامکان لري، په یوه سرتاسري تحریك بدل شي، چې دابه روس دخپل هیواد دننه مصروف اوافغاني مجاهدین به دخپل منزل مقصود لورته په ډیروکموتلفاتو وروروسیږي . دریم داچي دروس اوامریکا بیاښبالي اورقابت به داسلامي نړي پرلور دمتحدنړیوال کفر فشارراټیټ کړي، اوخپلمنځي درځ به پکي راپیدا شي . نوموږ ددي تحلیل په رڼاکي دروس داداخلي بدلون له ټول وحشت اوافراطیت سره سره که دلویدیځ په وړاندي هماغه پخواني دریځ خپل کړي، دنړیوال کفر دتیتي ټوټي کیدلو اوتفاق له کبله پراسلامي نړي دکفرتشدد دکمښت بوګام بولو، چې ان شا الله اسلامي نړي اوزموږجهادبه دکفري جهان له دي اختناق نه په ګټه دخپل بري په لورخپل یون نورهم چټك کړي .

نشانه هاي شكست كودتاچيان در شوروي

درجنوب شوروي رفته اند.

هيئتي براي باز گردانيدن گرباچوف به جزيره كريمه رفته است وواحد هاي زرهي از مركز روسيه وجاده ها خارج شده وتنها ميدان سرخ واطراف كريملن درحفاظت تانكها ووزره پوشهاي نظاميان قرار دارد.

شكست كودتاچيان روزگذشته هنگاميكه مردم به حمايت از يلتسين به تظاهرات پرداختند آشكار گرديد.

جمهوري هاي شوروي ازجمله اوكراين و قزاقستان به حمايت از بوريس يلتسين پرداخته اند.

يلتسين گفت : روزگذشته با سازمان K.G.B توافق شده بود تاهيئتي به كريمه رفته از گرباچوف ديدن نمايد.

تاحال نميتوان گفت كه كودتا بكلي شكست خورده باشد. يلتسين گفته است كه هنوز موفق نشده تا با گرباچوف تماس بگيرد.

بفرمان وزارت دفاع شوروي واحد هاي ارتش از تمامي جاده ها وسركها خارج شده اند وكنترول برمطبوعات خاتمه يافته است

طبق يك خبر ديگريلتسين رئيس جمهور روسيه طي اصدار فرماني قوماندانان ارتش روسيه را از پست هاي شان بركنارنموده است.

پارلمان روسيه گرباچوف رابه حيث رئيس جمهور شوروي تقبيح نمود. شوروي عالي شوروي تمامي فرمان هاي راكه از طرف كودتاچيان صادر شده بود لغو نمود.

يك مشاور بوريس يلتسين گفت قرار است گرباچوف امشب ويافردا صبح از كريمه به مسكو برگردد.

په نیول شوي کشمیر کي دکشمیري ولس پاخون

انجنیر نورگل «حمکني» ترجمه ۴ برخه

په ۱۹۸۳ او ۱۹۸٤ کلونوکي چي دسرینگراونوي دیلي ترمنځ دبیا آبادوني دقانون دمسودي پرسرکرم تریخوالي پیداشوي ؤ، نوهغه دانتخاباتي مبارزي اوهم دفاروق عبدالله له خواداپوزیسیون په پټولیدلو کنټوکي په برخي اخیستلو سره نورهم زیات شو .

په ۱۹۸۳ کال کي چي کانګرس ائي په دوو جنوبي ایالاتونو کرناټك او اندراپرادیش کي ماتي وخوړه اوپرځاي ئي داپوزیسیون حکومت جوړشو نودپنوخبروسیاست هم منځ ته راغي .

تردي وروسته په تامیل نادو اوپونډ بچیري کي هم داپوزیسیون حکومتونه جوړشول ، نوددي کامیابیو په نتیجه کي اپوزیسیون نورهم فعال شو او دمرکزپه خلاف ئي بوکمپاین پیل کړچي خپلوایالتونو ته زیاته خودمختاري حاصله کړي .

داپوزیسیون لومړني پټه غونډه د ن، ت ، دامه راؤ، په نوبت چي داندراپرادیش وزیراعلي ؤ په ۱۹۸۳ کال دمي په میاشت کي په ویجایواډا کي جوړه شوه اوفاروق عبدالله په داسي حال کي چي په نیول شوي کشمیرکي انتخاباتي کمپاین په خپل عروج کي ؤ، په دي غونډه کي برخه واخیسته . وریسي په همدي کال دجون په میاشت کي په نوي ډیلي کي یوه غونډه ، اوبله هم داکتوبرپه میاشت کي په سرینگرکي جوړه شوه ، اوهم د ۱۹۸٤م کال په جنوري کي په کلکته کي هم یوه پټه غونډه جوړه شوه .

دفاروق عبدالله له خواپه دي غونډوکي په شریکیدومرکزیات خواشیني شراودفاروق عبدالله دلیري کولوپه تکل کي شو .

دمرکزله خواپه نیول شوي کشمیرکي دقاضي القضات مقررول ، اودخوراکي موادو بندول ددي باعث شول چي په وادي کي اردوو شروع شي اوپه همدغه وخت کي چي دسرینگرپه سټډیوم کي دویسټ انډیز اوهند ترمنځ دکریکټ لوبه روانه وه، نو خلکو دهندي ټیم پرخلاف شعارونه ورکړل اودمرکزله خوابیا فاروق په دي تورن شو چي دآزادي تنګیالوسره پټ روابط لري .

د۱۹۸٤م کال په فبروري کي په لندن کي دهند یو ډیپلومات م، ح ، مهاتر دکشمیردآزادي دپوځ له خوا وتښتول شواوکشمیر دآزادي دجبهي دمشرمقبول بټ دخلاصون غوښتنه ئي وکړه چي دډیلي په یوه بندیخانه کي دمرګ سزا ورته اوروړلي شوي وه .

لږوروسته دهندي ډیپلومات په وژلو سره مقبول بټ هم شهیدکړاي شو . ددي واقعاتوپه رڼاکي دمرکزله خوادنیول شوي کشمیر والي ب، ك ، نهرو چي دفاروق عبدالله په لیري کولو کي پاته راغلي ؤ، دخپلي وظیفي څخه برطرف کړاي شو اوپرځاي یي دمرکزوفاداره‌جگ موهن دلومړي ځل لپاره والي وټاکل شو . جگ موهن خپل فعالیت دکشمیردملي کانګرس له تجزیي څخه پیل کړاودخالده شاه په مشري ئي چي دج ، م ، شاه ، ښځه وه یومخالف ګروپ تشکیل کړاو ج ، م شاه ئي دراتلونکي وزیراعلي په حیث په نظرکي ونیو .

د ۱۹۸٤ م کال په جون کي چي دمرکزله خوادسیکانو په زرینه ګوردواره باندي حمله وشوه، نوپه ټول هندکي دسیکانو اوهندوانو ترمنځ اخ ودب پیښي شر اودمرکزله خوابیاهم فاروق باندي تورولګول شوچي دټول هند دسیکانو دمحصلانودااتحادیي غړوته په نیول شوي کشمیرکي تربیه ورکوله کیږي .

په دغه وخت کي جګ موهن اعلان وکړچي دنیول شوي کشمیر دملي کانګرس دوولسووکیلانودج ،م، شاه طرفداري اعلان کړه اودکانګرس ائي سره ئي اتحادوکړاوبیائي فاروق عبدالله ته اجازه ورنکړه چي په اسامبله کي خپل اکثریت ثابت کړي . نودهمدي کال په جون کي ئي هغه برطرف کړ .

د۱۹۸٤ م کال داکتوبر په ۳۱ نیټه داندراګاندي دوژني له امله راجیوګاندي دهند صدراعظم وټاکل شو اوپه نیول شوي کشمیرکي دج،م، شاه حکومت هم د ۱۹۸٦ م کال ترمارچ پوري دوام وکړ .

په ۱۹۸٦ م کال دفبروري په میاشت کي چي دعدالت له خواهندوانوته په ایوداکي دبابري مسجد په احاطي کي دعبادت اجازه ورکړاي شوه .

نوپه نیول شوي کشمیرکي هم فرقوي اخ ودب رامنځ ته شو .

په نتیجه کي دج ،م ، شاه حکومت سقوط وکړ اوجګ موهن درادي کنټرول په خپل لاس کي واخیست .

تردي وروسته دسپتمبر په میاشت کي دهند رئیس جمهور دنیول شوي کشمیرکنټرول سمبال کړچي تقریباً دوه کاله ئي دوام وکړ .

دزیاتوچل وتوسره سره کانګرس آئي دي نتیجي ته ورسید چي په وادي کي ئي نور تسلط ختم شوي دي، اودمسلمانانو دمتحدي جبهي دمشرقاضي نثار، سیاسي وګرته په راتګ ، راجیوګاندي دي ته ارشو چي فاروق عبدالله سره خپل اختلافات ختم کړي اوفاروق هم دوغسي فرصت په لټه کي ؤ چي بیا اقتدارحاصل کړي ، نودراجیوسره خبرواترو ته وبریه اسانه رضاشو .

دغه شان په نومبرکي دیولږ لیدنوکتنو څخه وروسته دراجیواو فاروق ترمنځ معاهده وشوه چي دهغي پراساس دفاروق عبدالله دملي کانګرس اودکانګرس آئي ترمنځ ائتلاف‌وشواودنومبرپه شپږمه نیټه فاروق عبدالله دوزیراعلي په حیث لوړه وکړه اودهند درئیس جمهور کنټرول پاي ته ورسید .

دکابیني دغوښتني سره سم دنیول شوي کشمیراسامبله دوالي له خوا منحل شوه اوبیا په ۱۹۸۷م کال دمارچ په میاشت کي عام انتخابات ترسره شول اونوموړي ائتلاف داسامبلي اکثریت حاصل کړ، اپوزیسیون یعني دمسلمانانو متحدي جبهي یوازي څلورکرسي لاسته راوړي .

دانتخاباتودغوتابجوکشمیري اولس زیات مایوس کړ اوزیاتروئي دهند دیموکراسي ته دشك په سترګه کتل پیل کړل .

دفاروق عبدالله حکومت داولس دمسئلو په حل کي دستونزوسره مخامخ شوځکه چي اقتصاددرکود په حالت کي ؤ، بیکاري مخ په زیاتیدو وه اواداره له فساده ډکه وه اوفاروق عبدالله یوازي دپاکستان اودهغه د"ایجنټانو" پرخلاف تقریرونوته دوام ورکاوه .

له بلي خواکشمیریان دفاروق ـ راجیوپه معاهدي هم حیران شول ځکه چي کشمیریانو یوازي دمرکز پرخلاف دفاروق مرسته کړي وه ، تردي وروسته کشمیري اولس لپاره فاروق دملي خاین په حیث پیژندل‌شو .

د۱۹۸۹ م کال انتخاباتوکي چي دآزادي تنګیالوئي بایکاټ اعلان کړي ؤ ،دکشمیري اولس برخه نه اخستل ، دفاروق پرخلاف دنفرت اظهارؤ .

دانتخاباتوپه نتیجه کي په مرکزکي دملي جبهي حکومت تشکیل شواودوي یي سنګ په کابینې کي دنوي وزیرداخله مفتي محمد سعید لورډاکټرراببعه په نیول شوي کشمیرکي وتښتولي شوه ، په نتیجه کي ایالتي حکومت دي ته ارشوچي دکشمیر دآزادي دجبهي پنځه کسان دهغئ‌څخه خوشي کړي اومرکزهم په دي کي ورسره مرسته وکړه اودي عمل په حقیقت کي دآزادي دتنګیالویه مقابل کي دحکومت په لوئي ماتي دلالت وکړ .

دپورته ذکرشوي سپکاوي دتلافي په خاطر دکانګرس آئي دائتلافي حکومت له منځه وړلو لپاره پلان جوړشو .

په لومړي قدم کي دنیول شوي کشمیروالي ك، وي، کریشنا راو، فاروق برطرف کړ مګرهغه اطاعت ونکړ اوپردي اساس مرکزبیرته جګ موهن چي په ۱۹۸٦م کال کي ئي فاروق عبدالله برطرف کړي ؤ، دکشمیروالي‌وټاکه .

داکاردډي لپاره وشوچي فاروق عبدالله به داعتراض په توګه استعفي ورکړي اوفاروق هم داکاردبرپه آسانه ترسره کړ .

دملي جبهي دحکومت په دوران کي هم په کشمیري اولس دزوراوظلم حکومت دوالي دکنټرول په توم دوام پیداکړ، مګردآزادي دتنګیالو دسختي مبارزي له امله مرکزدي ته ارشوچي جګ موهن بیرته برطرف کړي ځکه چي هغه د ۱۹۹۰ م کال دمي په ۲۱ نیټه دمیرواعظ مولوي فاروق دجنازي په وخت کي په خلکو دډزوحکم ورکړي ؤ اوزیات شمیرخلك وژل شوي وو .

دجګ موهن په ځاي دهند دخفیه ایجنسي دتحقیق اوتحلیل دڅانګي (را) پخواني مشر ج، سکسینا وټاکل شو .

دنوموړي داتومیاشتو داقتدار په دوران کي دجګ موهن دوخت څخه زیات بي ګناه خلك ووژل شول اوهم ئي وژنه روانه ده .

د ۱۹۹۰ م کال دجولاي په ۱۹ نیټه په نیول شوي کشمیرکي دوالي کنټرول ختم شواودهند درئیس جمهور کنټرول قایم شو چي اوس هم دوام لري .

دجهاد خواخوږي دقرباني په لیکه

عبدالمجید هدایت خوګیاڼي

نژدي څوارلس کاله وړاندي د ۱۳۵۷ کال دثوردمیاشتي په ۷ نیټي چي کمونستانو دیوي خونړي کودتاپه نتیجه کي زموږ دګران تاټوبي افغانستان دقدرت واګي په لاس کي ونیولي دافغانستان په مسلمان تش لاسي اوبي وسه ملت باندي ئي هغه ظلمونه وکړل چي قلم ئي دلیکلواوتاریخ ئي دمثال له وړاندي کولوڅخه عاجز اوناتوانه دي .

کمونستانوپه اسلامي افغانستان کي دخپلوالحادي فرسوده افکارودخپرولوپه لارکي له هیڅ قسم جنایت اووحشت څخه ډډه ونکړه . وطن ئي وران، وطنوال ئي شهیدان مدرسي اومسجدونه ئي ویجاړ، ښارونه اوکلي ئي په کنډوالوبدل اووداني ځمکي ئي په شاړواوسیروبدلي کړي خلاصه داچي ټول افغانستان ئي دمظلوموسلمانانو په وینورنګ کړ .

خولکه چي باتوروافغانانودتاریخ په اوږدوکي هیڅ سکیلاك ته دتسلیم سرندي ښکته کړي بلکه ښکیلاګیان ئي په شاتمبولي اودهغوي ښکیلاکي مقاصداواهداف ئي دخاورو سره خاوري کړي دکمونستانو په مقابل کي هم راپاڅیدل، دخپلي اسلامي عقیدي اوخپلواکي څخه ددفاع په خاطرئي توپك ته لاس کړ، دمقاومت لاره ئي خپله کړه اودالسلامي جهادتوغ ئي پورته کړ. یوي خواته دروسانوترحمایي لاندي تپل شوي کمونست رژیم ؤ، چي په توپ، ټانك، طیاره اوهرقسم وژونکوپرمختللوروسلوسمبال ؤ، اوبلي خواته تش لاسي بي وزله ولي مسلمان افغاني ولس ؤ چي بواځي په الهي نصرت ، اوخپلومتوئي بروسه اواتکا وه اووس دکمونستانوپه ضد دجهاد صفونه ورځ په ورځ پیاوړي شول اوچي کله په ټول افغانستان کي دخلکو سرتاسري جهادي

قیامونو په کابل کي تاست دروسانو مزدوررژیم دسقوط خواته ورنژدي کړنوروسانو دخپل تالي څخي رژیم دژغورلو په غرض ټول بین المللي قوانین اوانساني موازین تر پښولاندي کړل اود۱۳۵۸هـ کال دجدي دمیاشتي په شپږم تاریخ ئي په افغانستان باندي مستقیم جارحانه یرغل وکړ . داخبره له هیچاڅخه پټه نده چي افغانانوخپل مقدس جهادپواځي اوابواځي دخداي (ج) دمرستي په اسره پیل کړي ؤ هلته نه دچاڅخه دمرستي اوملاتړامیدؤ اونه هم په کوم خارجي طاقت، اعتماد اوبروسه،هلته یواځي اسلامي احساس اوافغاني غیرت ؤ، چي په اسلام مین افغانان ئي دکمونستانومقابلي ته وهڅول اویس .

که دافغانستان روان اسلامي جهاد ته بیه په غوراودقت سره خبرشونوبه ګوروچي دافغانستان اوسني جهادداسلام دصدرله جهادونو اوغزواتوسره په څوارخونو اووجوهوکي مشابهت او ورته والي لري چي په لاندي ډول ورته مختصرا نغوته " اشاره " کوو :

۱ – لمړي هلته هم یوڅه محدود تعداد مسلمانان داسلام دستریپغمبرترڅنګ دخپل ایمان په حکم دطاغوتیانو مقابلي ته راوتلي ؤ، اودلته هم افغانانو داسلام په حکم دکمونستانومقابلي ته وروداننګل اوپدي لاره کي دهرقسم قرباني قبلولو ته چمتوشول .

۲ – هلته هم مسلمانان په ابتدکي بي وسه اوتش لاسي وو چي وروسته بیاپه کافرانوغالبه اوبرلاسي شول اودلته هم دافغانانو سره پرته له الهي مرستي داسابیوپه عالم کي هیڅ نه وو .

۳ – هلته هم دمشرکانو دسخت ظلم له کبله مسلمانان هجرت کولو ته مجبورشوي وو چي مسلمانان دکافرانوډظلم څخه دخلاصي اوخپلي عقیدي دساتني په خاطر دوه ځله حبشي اومدیني منوري ته هجرت وکړاودلته هم افغانانو دروسانو اودهغوي دبي واکه ملحدو مزدورانو دظلم اووحشت له کبله دهجرت لاره ونیوله .

خوزموږ دروان مقدس جهاد دمؤید اومرسته کوونکو په منځ کي دپاکستان رئیس جمهورشهیدجنرال محمد ضیاء الحق دیوخاص مقام اومنزلت خاوند دي . کله چي دکمونستانو دظلم ، بربریت اووحشتوبادیوله کبله دافغانستان څخه دهجرت سلسله شروع شوه شهیدضیاء الحق ترټولو دمخه داسلامي ورورولي اوبشري خواخوږي له مخي دخپل وطن پولي اوسرحدونه بي له کوم خنډاو مانع څخه دافغاني مهاجرینو پرمخ پرانیستل .

شهید ضیاء الحق داسلامي احساس له مخي دمظلوموافغانانو سره ریښتیني اوواقعي خواخوږي لرله چي یواځیني هدف ئي دافغانانو دمقدس جهاد بري اوپه افغانستان کي دافغانانو په خوښه دیوسرچه اسلامي حکومت قیام ؤ .

کله چي دافغاني جهاد اومجاهدینو په ضدعالمي سازشونو په بین المللي سطحه پراختیااوموندله یواځي شهیدضیاء الحق ؤ، چي دهغي مقابلې اومخنیوي ئي کاوه . دجنیواله شرمه ډکه معاهده چي مجاهدین بکي دفنسي دیوطرف په حیث نه وو، پیژندل شوي اوټولو په کلکه ردکړي وه دشهید ضیاء الحق دواکداري په دوره کي چي کله د ۱۳٦۷ کال دحمل په پنځوشتم تاریخ چي پاکستان باندي دبین المللي فشارله کبله لاسلیك شوه شهیدضیاء پري هیڅکله نه ؤ خوښ ځکه خوچي کله دهماغي ورځي په ماښام دتلویزون په پردي باندي دویناکولو لپاره راښکاره شو دغم اوخفګان علائم ئي په څیره کي له ورایه ښکاریدل ، آوازئي دوه دوه کیدله

اودسترګوڅخه ئي دویراوماتم اوښکي رڼي ، رڼي روانې وي . شهید ضیاء الحق دمجاهدینو کامیابي، دروسانو ماتي اودافغانستان څخه په شاتګ دشلمي پیړي معجزه بلله اودایي لوي آرمان ؤ چي دافغانستان څخه دروسانو تیښته په خپلو غرېدلو سترګو وګوري .

شهیدضیاء الحق که یوطرف ته دافغانانو دبرحقه پاڅون په کلکه ملاتړکاوه چي دافغانانو اونورو دردمندومسلمانانو په زړونوکي ئي ځاي نیولي ؤ نوبل طرف ته بي په خپل وطن کي داسلامي شریعت دنافذیدو لپاره څواکمن ګامونه پورته کول هم دستاینې اوقدروړدي .

په پاکستان کي دعشراوزکات نظام قائمول دسوداوربااله منځه وړل اوقرآن اوحدیث دمملکت دټولو چارو دقانوني لمړي مرجع په توګه پیژندل، دشهید ضیاء الحق له شانداره کارنامو څخه دي شهید ضیاء الحق چي د۱۹۲٤ عیسوي کال داګست دمیاشتي په ۱۲ تاریخ دهندي پنجاب دجالندردسیمي په یوه مسلمانه کورني کي زیږیدلي ؤ د ۱۹۸۸ کال داګست دمیاشتي په ۱۷ تاریخ داسلام ددښمنانو له طرفه هغه وخت په شهادت ورسیدچي دپاکستاني پوځ دتجهیزاتو اونظامي وسائلو دلیدلو لپاره دبهاولپوروالسوالي ته په سفروتلي ؤ دبیرته راستنیدوپه وخت کي چي ئي کله الوتکه دځمکي څخه پورته شوه دڅودقیقو پروازڅخه وروسته په هواکي توټي شوه اونوموړي مجاهدخپلونورو ۳ تنو یوځي ملګروسره په شهادت ورسید " اناالله واناالیه راجعون " چي دجنازي دمراسمو تراداکولو وروسته دپاکستان په پلازمینې (اسلام آباد) کي دفیصل مسجد ترڅنګ خاوروته وسپارل شو .

دشهیدضیاء الحق شهادت دنورونه علاوه افغاني مجاهدین اومهاجرین هم زیات متاثره کړل دمجاهدینو په سنګرونو دمهاجرینو په کمپونو اودمجاهدینو ترکنټرول لاندي ټولو آزادوسیموکي داروابنادضیاء الحق روح ته ددعایه خاطر دقالحي مراسم ترتیب شول دخداي بسلي ضیاء الحق دسربندتو اوقربانیو څخه

ضرورت سلاح معنوي درمبارزه

سیدعبدالجبار " هاشمي "

